# د کاکړیو غاړو په رڼا کښي د ستۍ د دود تحقیقي او تنقیدي څېړنه

**(A critical and research based analysis of SATTI through the lens of "Kakari Ghari")**

ناهیده پانېزۍ*

**Abstract:**

Like all other tribes living anywhere in the world, Pashtun community too has its own distinguished features\ principles and values collectively called PASHTUNWALI. Among them, one is SATTI. It is that social value in which young mature girl wants to seek a young boy as a life companion so as to spend the remaining days of her life in pleasant and peaceful environment which, indeed is her inalienable right too. But her will be ruthlessly quelled by her family members. Sometime her wish in not fulfilled because her family has dire need of her presence in the home, assisting family in household drudgery in one of such compulsions. In such like situation, the girls get herself SATTI and refuses marriage. This egregious value is still as thrivingly alive as it used to be in past. Owing to this there is emphatic mention of SATTI in different faces of Pashto literature including KaKari Ghari. This research based paper throws light on the abhor able value of SATTI through the lens of Kakari Ghrari. Besides, the paper also delves deep into both positive and negative aspects of SATTI and logically deals with them. This research paper will not only embellish the lap of Pashto literature with a valuable concept but also open new vistas of research on a despicable yet prevalent culture of SATTI.

**Key words:** Pashto, Folkloric literature, Satti, Kakari Ghari.

د سماجي علومو له رویه که ورته وکتل سي نو د انسانانو له یوه بل سره د ګډ او نیزدې ژوند تصور هغه وخت ممکن سو چي کله دوی د خپلو اړتیاوو او ضرورتونو په رڼا کښي د سماجي اصولونو، قوانینو او سماجي قدرونو بنیاد کښېښود. وروسته هم دا ټولنیز اصولونه، قوانین او د سماجي ضرورتونو مجموعه د هغه قام یا ټولني چي منځ ته یې راوړي وو قامي دودونه، روایات او قدرونه وبلل سول. د تهذیبي ارتقاء په اوږدو کښي د دې ټولنیزو قوانینو او سماجي قدرونو رنګ شکل او بڼې بدلي رابدلې سوې دي. هغه ټول ټولنیزو قوانینو او سماجي قدرونو چي د وخت د غوښتنو او ضروریاتو احاطه نه سي کولای له منځ څخه ځي او پر ځای یې نوي اصولونه، قوانین او سماجي قدرونه منځ ته راغلي دي.

* M.Phil. Scholar, Department of Pashto, UOB, Quetta

د سماجي ژوند په تېر او بېر کښې د تغيراتو دا لړۍ هغه وخت لا پسې تونده او ګړندۍ سوه چې کله په نړۍ کښې د صنعتي انقلاب نخښې راڅرګندي او په راتګ يې د انساني ضروریاتو او اړتياوو بڼې او شکلونه بدل سول، د نړيوال کلي تصور او د ټيکنالوجي پرمختګ د سماجي قدورنو او ټولنيزو قوانينو بڼو ته يو مخ نوی شکل ور کړ. خو د دې هر څه باوجود په نړۍ کښې لا تر اوسه داسې ټولني او اولسونه شته چې د خپلو ټولنيزو اصولونو، قوانينو او نورو سماجي قدرونو پالني ته ډېر متوجه او د هغو خوندي ساتلو په هڅو بوخت دي. په دې اولسونو کښې يو پښتون قام هم دی، لکه څنګه چې په نړۍ کښې هر مېشت قام او اولس لا تر اوسه څه ځانګړې دودونه، روايات او قدرونه لري. داسې پښتانه هم په حيث د يوه قام څه خپل ټولنيز اصول، قوانين او ملي دودونه لري، چې موږ يې په عامو تورو کښې د پښتو، پښتونوالي يا پښتونولۍ په نامه يادوو.

پښتونولي په اصل کښې د پښتنو د هغو ټولنيزو اصولونو، قوانينو، رسمونو،دودونو، رواياتو او د سماجي اقدارو و مجموعې ته ويل کېږي، تر کومو لاندې چې پښتانه د خپل ورځني ژوند معاملات او د ژوند کړه وړه پر مخ بيايي. پښتونولي ته د پښتني ټولني هغه ناليکلی (Unwrittin) ائين هم ويل کېږي کوم چې پښتنو د يوې اوږدې تهذيبي ارتقاء په نتيجه کښې منځ ته رواړی دی. هم دا وجه ده چې پښتانه په حيث د يوه قام د خپل دې ناليکلي ائين له هر شق او هري نقطې سره ډېره مينه او اخلاص لري. په پښتني ټولنه کښې دا خيال ډېر عام دی چې کوم پښتون د پښتونولي د اصولونو او پابنديو خلاف ورزي کوي، هغه ته ډېر په بد نظر او سپکه سترګو کتل کېږي. ټولنه د ده دا عمل په سختو تورو غندي او په ډاګه ورته وايي چې دا دي ډېر بې پښتو او بې ننګه کار وکړ. په دې اړه نامتو ليکوال او محقق ښاغلی سيد رسول رسا په ارمغان خوشال کښې وايي:

"پښتو يوه ډېره پر معني او جامع کلمه ده او دا د پښتون قوم د حيات په هر اړخ جاري ده، پښتو د پښتنود ملي ژوند، عزت، شرافت، لوړوالي، غيرت او حميت يو داسې معيار دی چې پښتانه په دې تله پښتون تلي او کوم پښتون چې د پښتو نه پرېوزي نو د پښتنو د نظر نه هم پرېوزې" (1)

خو د دې خبري معنا دا هم بالکل نه ده چې د پښتونولي يا د پښتنو د دې ناليکلي ائين ټول اړخونه او هره بڼه يواځې او يواځې مثبت او ګټور اړخونه لري. بلکې موږ په ډېرو ځايونو کښې دا هم احساسوو چې پښتانه د پښتونولي په نوم څه داسې اصولونه او قوانين هم پاللي چې تل د يوې مهذبي او مثبي ټولني پر لمن د بدنما داغ په حيث ارزول کېږی. مثلاً ستۍ، بدل، سواره، تور، پېغور، تربګنۍ، د دښمنيو پالل او نور. دا ټول هغه بې ځايه او غلط دودونه او روايات دي چې تر مثبتو اړخونو يې منفي اړخونه قوي او موثره دي. په دې اړه نامتو ليکوال او اديب ښاغلی سيد رسول رسا په خپله ياده ليکنه کښب داسې وايي:

"د پښتون په پښتو کښې که يوې خوا ته ننګ، مېړانه، شجاعت، مېلمستيا، بدل، سخاوت، غيرت، عفوه، استقلال، عزم، د ارادې پختګي، پت، پخه ملګرتيا، پخه دوستي، ساده ګي، صاف ګويي، حق ګويي، بې باکي، ايثار، قرباني، او سيالي وغيره ښه صفات موجود دي. نو بلې خوا ته ور کښې فضول دود دستورونه او رواجونه، بې ځايه او بې موجبه ضد، په ذات پات بې ځايه غرور او تکبر، يوګونه، د زمانه جاهليت، جهل، تربورولي (تربورګني) او پخه دښمني، کسبګر او هنر مند او غير پښتانه ته په سپک نظر کتل، بې ځايه خرڅونه، بې ځايه انفراديت او بې موجبه انتهاپسندي وغيره هم شامل دي" .(2)

له دې خبرې څخه دا اندازه کول نسبتاً اسان دي چې د پښتو، پښتونولۍ يا پښتونوالي پراخه لمن پر يوه وخت له ګڼېرو او تاواني دودونو، اصولونو او قوانينو څخه ډکه او غني ده. مثلاً جرګه، ننواتی، پناه، اشر، مرسته، مېلمه پالنه،کانې، پښتو کول (وعده)، وايه (خبره) او داسي نور، دا ټول هغه ټولنيز اصولونه او ټولنيز قوانين ګڼل کېږي، که يې پر وخت او سمه کارونه و سي نو په مرسته يې ډېر ټولنيز کړکېچونه، تکليفونه او ناوړتياوې ډېرې په اسانه سره هوارېدلی سي.

په دې ليکنه کښې هم د پښتونولۍ د يوه داسي دود چې (ستۍ) نومېږي په اړه لنډ بحث کوو او دا کوشش کوو چې د کاکړيو غاړو له رويه د دې دود د تاريخي پس منظر او سماجي اغيزو يو لنډ څېړنيزه جاج واخلو.

ستۍ يا ستی کېدل د پښتو ژبې توری او لغوي معنا يې په اور سوځولو، لمبه کولو ته وايي. دا کلمه يا توری په هندي او د هند په نورو لرغونو او پخوانيو ژبو کښې هم نه يواځې په دغه تلفظ (ستۍ يا ستي) ادا کېږي بلکې معنا او مفهوم يې هم دغه دی. د پښتو په نامتو لغت (ډکشنرۍ) درياب کښې د ستۍ يا ستي توري معنا داسي ليکل سوې ده:

"ستۍ: (س ـ تۍ) اسم صفت ـ واحد ـ مونث ، هغه هندوه ښځه چې د مړ خاوند د پاره بل شوی اور کښې په ژوندونې ځان و سيزي".(3)

دا ډول د ستۍ د توري معنا داسي ليکل سوې دي:

"ستی: (سی ـ تی) اسم صفت، په اور سوی، په اور سوزېدلی، کباب شوی، لبمه شوی، دهندوانو هغه رسم چې ښځه پکښې د مړ خاوند سره اور کښې سېزلی شي" .(4)

خو نامتو ليکوال او مورخ ډاکټر مبارک علي په خپل کتاب "تاريخ اور عورت" کښې د ستۍ د رسم تعريف داسې کړی دی:

"ستی کے معنی پاک ہونے کے ہیں، اس لیے جو عورت شوہر کی چتا پر جل جاتی تھی وہ پاک باز او باعفت سمجھی جاتی تھی." (5)

ستۍ د پښتونولۍ يو لرغونی دود دی د دې دود له مخې په پښتنې ټولنه کښې يوه پېغله نجلۍ پخپله خوښه له واده کولو څخه انکار کوي او وايي چې ځان ستۍ کوم او تر مرګه د پلار پر کور

کښېنم. هر کله چې یوه نجلۍ ځان ستي کړي نو تر ټولو لومړی خپل ټبر لکه مور، پلار، وروڼه او نور خپل خپلوان خبر کړي. وروسته دا حال په ټول کلي بلکې په ټوله علاقه خورشي چې د پلانکي لور یا د پلانکي خور ځان ستي کړی دی.

"ستي کلمه په پښتنو او هندوانو دواړو قومونو کښې سته خو زموږ ستي دا ده چې واده نه کوي او د هندوانو نجوني چې بیا ځان ستي کوي نو په اورونو کې ځان سوځوي". (6)

په پښتنو کښې ښځې په مختلفو حالتونو کښې ځان ستي کوي. کله د پلار د کور د ځینو مسئلو له وجې چې هغه د دې د پلار په کور کښې په شتون باندې حل کېږي. نو دا نه غواړي چې د پلار کور پرېږدي او هغه مسئلې یې د پلار کور خراب کړي او د مېړه نه کولو قرباني ورکړي او ټول عمر د پلار پر کور ستي کښېني. کله بیا چې په دې و پوهېږي چې واده مې داسې ځای کېږي چې د هغه مېړه سره تر ژوند د پلار کور راله ښه دی نو ستي غوره وګڼي. کله بیا چې یوه ښځه کونډه سي نو که یې یو زوی یا لور وي نو د هغه په نامه په دې وجه کښېني چې بل مېړه یې ژوند نور هم ورخرابوي نو دا ستي ته اهمیت ورکړي او د مړه مېړه سره خپله وفا تر مرګه پوره کړي. او کله کله بیا داسې هم وي چې د ژوند یوې پېښې یا د یو ظلم او زیاتي لکه بې وفایي یا بې ننګي له سوبه هم یوه ښځه ځان ستي کوي. او بیا که یې ژوند هر ډول وي که هر ډول نامناسب حالات، مشکلات او خوارۍ سره مخامخ سي، خو له خپل قول او فعل څخه نه اوړي. ولې چې د پښتون په خټه او وینه کښې پښتونولي شامله ده او د پښتونولي خپل قومیت او خپلې خاورې سره مینه ګای هم نه پرېږدي او د خپل ننګ او غیرت همېشه په کلکه سره پالي.

"پښتون فطرتاً حریت پسند دی، د خپلو قوانینو او معاشرتي اقدارو او روایاتو قدردان دی، د خپلې خاورې سره بې کچه مینه لري او په خپل وطن ننګ کول د هغه خاصه ده. هر څو که د پښتو وضع کړل سوي قوانین په انفرادي ډول هغه ته اذیت ورکوي ولې بیا هم هغه د دغه وضع کړې سوي نالیکلي ائین په رڼا کښې هغه څه ته غاړه نه ږدي چې د هغه پښتو او پښتونولۍ له نقصان ورکوي او نه چرې د هغې حالاتو سره سمجهوته کوي کومه چې د دې برخلاف وي، پښتون وګړي د دې وضع کړې سوي قانون نه ځان ژغورل نه غواړي". (7)

**تاریخي شالید یا پس منظر**:

ستي نه یواځې یو ډېر لرغونی او پخوانی دود دی بلکې د تاریخي شواهدو له رویه داسې معلومېږي چې دا دود په یوه پراخه سیمه کښې په لږ او ډېر توپېر موجود وو. ځکه چې په خصوص له پښتونخوا وطن علاوه د هند په نورو سیمو او قامونو کښې هم رواج لرلی. په خصوص د هند پر لرغوني تهذیب کښې د دې دود تاریخي شالید (پس منظر) ډېر لرغونی او تر پېړیو پېړیو شاته غزېدلی دی. د تاریخ په یو شمېر کتابونو کښې د دې دود په اړه تفصیلي بحث شوی دی.

البته د وخت له تېرېدو سره د دې دود نه يواځې په نوعيت او شدت کښې لږ او ډېر توپير تر سترګو شوی دی، بلکې ډولونه يې له يوه او بل څخه فرق لري. مثلاً د هند په خلګو په خصوص په هندوانو کښې به د ستۍ يا ستي د دود له مخې يوې واده ښځې به له خپل مړه خاوند سره ځان و اور ته غورځولی. دا کار به هغې په خپله رضا کولی. کله به سماجي رويو دا مجبوره کړه چې د مېړه په غم کښې ځان و سوځي.

په شفاهي ادب په ځانګړې توګه په کاکړيو غاړو کښې ډېري داسي حوالې او بېلګې سته چې دا دود پکښې منعکس سوی دی.

"د ګونۍ کميس راوکه
زه ستۍ کښېنم بابکه"(8)

د دې غاړې پس منظر د يوې پېغلې چې نوم يې مرادو دی د ژوند له يوې کيسې سره داسي بيان سوی دی. چې مرادو يوه پېغله وه دې و پلار ته ويل چې زه مېړه نه کوم او ټول عمر تر مرګه ستا په کور کښې تېروم. نو دا غاړه ورباندي جوړه سوې وه. خو بيا داسي وسو چې مرادو د ځوانۍ مست موسم پر خپل زبان و نه دروله يو وخت له يوه ځوان سره په تېښته لاړه. نو بيا به د سيمي خلګو د دې د هغې کاکړۍ غاړې په جواب کښې چې دې د ګونۍ کميس پکښې غوښت او کلتون يې کښلی او بيا پکښې بې زبانه سوه، نو خلګو دا کاکړۍ غاړه پسي جوړه کړه چې.

"له مرادو پوښتنه وکئ
د ګونۍ کميس يې څه کئ؟"(9)

د ښځې د ژوند په دې دوو صورتونو کښې دا دود ښځې کوي: يو په پېغلتوب کښې او بل په کونډتون کښې هم دا دود ښځې په خپله خوښه کوای سي. يعني که دوی و غواړي چې مېړه نه وکړي نو دوی ته په پښتني روایاتو کښې د ستۍ د دود پناګاه سته چې دوی پکښې له مېړه نه کولو پناه اخلي. کني نور خو په پښتني ټولنه کښې ښځه د خپل ژوند پر هيڅ اړخ او هيڅ حق باندي خپل اختيار او واک نه لري چې د خپلي خوښې ژوند تېر کړي. يوازي په پښتني ټولنه کښې هم دا دود ستۍ دی چې ښځه پکښې د نرواکۍ له ظلمونو دومره پناه پکښې اخيستلای سي چې د دوی په خوښه له مېړه کولو څخه په امان پکښې پاته سي. که څه هم د خپلي خوښې د مېړه کولو حق ورته حاصل نه وي.

که څه هم د ستۍ په دود کښې ښځې د نرګانو له خوا له نورو ظلمونو څخه وژغورل سي هغه داسي ظلمونه چې د ښځو له خوښې پرته و مېړه ته ورکول کېږي. هغه که کونډه و معذور يا سپين ږيري ته د مړه مېړه په کورنۍ کښې کښېنول کېږي، که پېغله له خپلي خوښې پرته و معذور او يا سپين ږيري ته ورکوي. خو د دې دا معنی هم نه ده چې د ستۍ دود د ښځو د ژوند او حقوقو په حواله په مکمله توګه د دوی د حقوقو دفاع کوي، يا د دوی د ژوند ټول حقوق او خوښې پکښې ورکول کېږي. بلکې يوازي

دومره سي چي د نر له نورو د ظلم پر سر له ظلم څخه وژغورل سي او په ژوند له یوه معذور یا سپین ږیري سره نوري کانې او ملنډي وربانديي نه ووهل سي. کني نور خو نو ستۍ هم هغه جاهلانه او ظالمانه دود دی چي د ښځو د ځوانۍ او د خوښۍ ژوند پکښي تباه کېږي او په ډېري محرومۍ او غمونو یې د ژوند شپې او ورځې د مرګ تر ورځې تېرېږي. نو ستۍ هم ځکه ورته ویل کېږي چي په دې دود کښي ښځې په سختو، محرومیو د او غمونو په حالاتو ستي کېږي، هره ورځ یې د اور تر لمبو کمه نه وي، هره ورځ په دې محرومو حالاتو سوځي. نو ستۍ د بې وزلو ښځو دپاره که له یوې خوا د ظلمونو پر سر له ظلمونو یوه پناګاه ده نو له بلې خوا یې د اور جامه هم ده چي تر مرګه یې په غاړه وي.

**پایله**:

موږ د دې خبري ذکر مخکي هم وکړ چي د صنعتي انقلاب له راتګ وروسته کابو هري ټولني دا هڅه او کوښښ وکړ چي خپل ټولنیز ژوند د روایت له ټاکونو څخه ډېر په چټکتیا او توندۍ راتېر کړي. قدامت پسنده رجحاناتو ته د پای ټکي کېږي او پر ځای یې د نوښت او جدت لاره خپله کړي. خو څه ټولني د هر څه باوجود دې ته مجبوره دي چي خپل څه دودونه، قدرونه او ټولنیز عنعنات پر ځای وساتي، ښښتني ټولنه هم له هغو څخه یوه ده. خو دلته کتل دا پکار دي چي کوم شیان باید پر ځای پاته سي او کوم شیان له منځه تلل ګټه لري. که خبري رالنډي کړو نو ویلای سو چي په نړۍ کښي هغه قامونه هوښیار او ځیرک ګڼل کېږي چي په خپل ټولنیز ژوند کښي هغه اصول او قوانین چي تر بدو یې ښه اړخونه ډېر او مضبوط وي نه یواځې له ورکېدولو څخه و ژغوري بلکې د وس تر ټاکه یې د پاللو هڅه هم وکړي.

## حوالې

(1) رسا ، میا رسول، ارمغان خوشحال، سریزه او مقدمه، چاپ دووم، یونیورستي بک ایجنسي پېښور، کال۲۰۰۱م ، مخ ۵۹

(2) همدغه،مخ ۵۹

(3) مومند ، قلندر، فرید صحرایي، پښتو لغت دریاب، پبلشر این ډبلیو ایف پي ټیکسټ بک بورډ پېښور، کال ۱۹۹۴م،مخ ۸۳۷

(4) همدغه،مخ ۸۳۷

(5) مبارک علي، ډاکټر، تاریخ اور عورت،تاریخ پبلشر مزنګ روډ لاهور پاکستان، مخ۳۹

(6) ژړک، محمد صادق، پښتونواله، پښتو نړیواله مرکه، کال ۲۰۱۷م،مخ ۲۰۴

(7) تکتو، د سلمیٰ شاهین کتاب ټېپ، کال جولایي-دسمبر ۲۰۱۳م، مخ ۱۹۱

(8) کاکړه شفا سره مرکه، کېنټ ګرلز کالج جناح روډ کوټه، ۱۵فروري ۲۰۱۹م

(9) همدغه اثر